مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۶/۰۵/۰۵

# پر کندهار باندي د کيخسرو پوځي حملې او د هغه ناکامي او عواقب:

کندهار استقلال اعلان کړی او ترلاسه کړی وو. له پښتنو څخه د استقلال د بیرته اخیستلو او د کندهار د بیرته اېلولو لپاره د ایران له صفوي رژیم سره د شاه عباس او شاه طهماسب په څېر قوت موجود نه وو. کندهار هم هغه پخوانی کندهار نه وو. اوس یې د میرویس نیکه په څېر یو هوښیار او زړه ور لاربښود درلودی او د سیمې ټولو اوسېدونکو د هغه رهبري منلې وه او په مقابل کي صفوي رژیم دونه فاسد او بې واکه سوی وو چي د خپل قلمرو ساتل یې په وس کي نه وه او نور د پوځي عملیاتو زور ورپاته نه وو.
میرویس نیکه په ۱۷۰۹ م کي پاځون وکړ او ګرګین یې قتل کړ. دا خبر ډېر ژر اصفهان ته ورسېدی خو د اېران دربار د کندهار د پاځون د بیرته نیولو او پاځون والو ته د سزا ورکولو لپاره ایله دوه کاله وروسته د ګرګین وراره خسرو خان یا کیخسرو خان ته پر کندهار باندي د حملې کولو وظیفه وسپارله او هغه په ۱۷۱۱ م کي له مشهد څخه د کندهار پر لور روان سو. د دونه مهمي لښکرکښۍ لپاره باید چي اصفهان یو ډېر لوی پوځ لېږلی وای ځکه چي هغه پوځ ډېره لویه فاصله وهله او باید چي حتماً یې بری ترلاسه کړی وای کنه نو د پوځ د ماتي په صورت کي مات سوي عسکر تر ایران پوري رسېدلای نه سوای او ټول قتلېدل. خو شاه حسین یوازي ۱۶ زره عسکر واستول. په داسی حال کي چي خسروخان، د یوه جنرال په حیث، خپل لیاقت په اثبات رسولی وو او باید چي هغه د جنګ عمومي قوماندان وای خو شاه حسین یا خواجه سرایانو او درباریانو د پوځ مالي او پوځي مسولیت د عباسقلي بیګ په نوم یوه سړي ته وسپاری او د خسروخان سره چي یې قزلباش عسکر لېږلي وه هغوی د یوه ګرجي قوماندې ته په هغه اندازه اهمیت نه ورکاوه لکه د خپل یوه مسلمان جنرال عباسقلي بیګ امر ته چي یې غاړه اېښودله.
کروزینسکي وایی چي دې پوځي قوې ته یې ۲۶۰ زره تومانه بودجه ورکړه؛ خو له دې جملې څخه یې ۲۰۰ زره عباسقلی خان او باقي پاته یې ګرجي عسکرو ته تخصیص کړه او د هغو پیسو د لګښت واک یې هم عباسقلي بیګ ته ورکړی وو. دا پخپله د خسروخان په څېر یوه مهم جنرال په حق کي تېری وو او پاچا یا درباریانو په لوی لاس د دونه مهمي حملې لپاره لېږل سوی پوځ، له لومړي سره، پر دوو برخو وېشلی وو. په هر صورت د خسروخان حمله ناکامه سوه. خسرو خان او عباسقلي بیګ دواړه ووژل سول او له پوځ څخه ایله ۵۰۰ تنه ژوندي ایران ته ورسېدل.
نور تاریخي منابع وایي چي د ایران دربار پر کندهار باندي حملې کولو او د هغه ښار او شاوخوا سیمو د پاځون ځپلو اهمیت ته متوجه وو ځکه نو شاه حسین د دې لښکرو لپاره تر ټولو مناسب قوماندان د ګرګین وراره کیخسرو خان وټاکی چي هم په توره او زړه ورتوب مشهور وو او هم یې د خپل کاکا د کسات اخیستلو وینې په جوش کي وې.
محمدخلیل مرعشی؟، د کروزینسکی په خلاف، د صفوي پوځ شمېر ډېرزیات ښیي او لیکي چي صفوي شاه حسین کیخسرو میرزا ته د سپه سالاری مقام او د کندهار سرداري ورکړه او د خراسان، د هرات حاکم او د کرمان حاکم علیقلی خان د تقریباً ۵۰ زرو پیاده او سپرو عسکرو او توپخانې او خزانې سره د کندهار پرلور واستاوه. مجمع التواریخ ص ۸
د کیخسرو دونه زیاتي عسکري قوې، مهماتو او خزانو به د میرویس خان د آزادۍ تحریک ناکامه کړی او ځپلی نه وای مګر لږترلږه له سختو مشکلاتو سره به یې مخامخ کړی وای او د میرویس خان لپاره به ګرانه وای چي د دونه لوی طاقت سره یې په آسانی مقابله کړې وای. خو د اېران د دربار کمزوري او اداري فساد او د عالي رتبه مقاماتو پرله پسې خیانتونو دا ځل هم خپلې ریښې ووهلې او د کیخسرو میرزا پوځي اقدامات او عملیات یې له ناکامۍ سره مخامخ کړل. . تر ټولو مهمه د ایران د پاچا بېحده کمزوري وه چي هیڅ ډول اراده یې نه درلوده او که څه مړانه ورپاته وه هغه یې په شرابو او ښځو کي افراط له منځه وړې وه. د پاچا امر هیڅ چا نه مانه او یوازي د ده په حضور کي یې ګویا امر چلېدی.
د ایران د شاه د دربار هغه ډلي اشرافو او مقاماتو چي میرویس خان یې بیرته کندهار ته واستاوه او د ګرګین د وژلو او د کندهار د آزادۍ زمینه یې برابره کړه دا ځل د کیخسرو د پوځي طاقت د ماتولو دپاره دسیسه وکړه. دا ډله بېړېدله


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

چي که يو ځل کيخسرو په دې عملياتو کي بريالی سو نو دا به د شاه په دربار کي د هغه اعتبار ډېر لوړ کړي او د دوی حيثيت او قدرت ته به تاوان ورسوي. History of the Late Revolutions of Persia pp 190-191
د ايران د شاه درباريانو د کيخسرو د ماتولو او ناکامولو لپاره درې کارونه وکړل. لومړی خو يې د هغه د عسکرو او منصبدارانو لپاره د تخصيص سويو پيسو يوازې دريمه برخه ورکړه او د هغه پوځي قوت يې له سختو ستونزو سره مخامخ کړ او په نتيجه کي يې عسکر زړه ماتي سول. دوهم يې د هغه په پوځ کي قزلباشو منصبدارانو ته مشوره ورکړه چی د خپل جنرال اطاعت به نه کوي ځکه چي هغه يو ګرجی دی او دوی بايد د خپل قزلباش جنرال اوامر ومني. دې کار د پوځ په حرکاتو او عملياتو کي بې نظمي راوستله او پوځ يې ډېر سخت کمزوری کړ. دريم کار چي تر ټولو خطرناک ثابت سو او د کيخسرو ريښې يې وايستلې هغه دا وو چي د کيخسرو محافظ او خانه سامان ته يې وظيفه ورکړه چي د ټولو جنګي عملياتو اوپلانونو احوال به ميرويس خان ته رسوي ؛ تر څو هغه مخکي له مخکي ځان تيار کړي او د کيخسرو حملې شنډې کړي. ويل کيږي چي دغه جاسوس چي ميرويس خان ته يې د ايراني عسکرو د عملياتو په باره کي جاسوسی کوله د اصفهان په عملياتو کي د شاه محمود ملګری وو. Ibid pp 191-195
په هرصورت کيخسرو د ۱۷۰۹ ميلادي د نومبر په مياشت کي له ايران څخه حرکت وکړ، په هرات کي د ابدالی قبيلې مشر عبدالله خان او د هغه د قبيلې سړي ورسره ملګري سول او د ۱۷۱۰ د نومبر په مياشت کي يې ځان فراه ته ورساه. لاکهارټ ص ۱۰۳
دا چي کيخسرو په يوه کال کي له اصفهان څخه ځان فراه ته رسوي او په مخ کي هيڅ نظامي ستونزه هم نه لري نو له دې څخه ښکاري چي هغه  د خپل پوځ په دننه کي د سختو پوځي او اداري مشکلاتو سره لاس و ګرېوان وو کنه نو دا فاصله يې بايد په دوو دريو مياشتو کی وهلې وای. ميرويس خان د کيخسرو د لښکرکښۍ د خبر او اطلاعاتو اورېدلو سره سم د کندهار د ښار څخه دباندې پراته کلي له خلکو  تش کړل او هغوی ته يې وويل چي يا د کندهار ښار ته او يا نورو محفوظو سيمو ته ولاړ سي. د کندهار پر شاوخوا پرتو کليو حاصلات يې ښارته يوړل او په کليو کي د اوسېدني ځايونه او مواد يې ټول وسوځول. Ibid p195
کله چي د کيخسرو پوځ د کندهار د ښار شاوخواته ورسېدی نو له لومړۍ ورځي د موادو له کمبود سره مخامخ سو او هغه مجبور وو چي د خپل پوځ لپاره له ډېرو ليري پرتو ځايونو څخه مواد راوړي. ميرويس خان د کيخسرو پوځ پر آرامه نه پرېښود او هره شپه به يې د خرپ او ترپ حملې ورباندې کولې او په هره حمله کي به يې سل دوه سوه تنه ايراني پوځيان وژل او د کلا له سره څخه به يې  شپه او ورځ ګولۍ ورباندې اورولې. ميرويس خان په دغه وخت کي د کندهار د ښار اطرافو ته ليکونه واستول او پښتنو يې وويل چي هغه قافلې ولوټي چي د کيخسرو خان عسکرو ته آذوقه وړي. د کيخسرو عسکرو هرځای ماته کوله او هيڅ کار يې پر مخ نه سو بېولای. مجمع التواريخ ص ص ۱۴-۱۰
له يوې خوا کيخسرو خان، چي هسي په نوم مسلمان سوی وو او اصلاً عيسوی ووو د ايران صاحب منصبان توهينول او ډېر بد سلوک يې ورسره کاوه او هغوی به يې هره ورځ سپکول. مجمع التواريخ ص ۱۰۵
او له بلې خوا د ايران مقاماتو د خپلو هغو صاحبمنصبانو چي د يوه عيسوي جنرال تر قوماندې لاندې عملياتو کولو څخه يې کرکه درلوده، حمايه کوله او د يوه سړي په زړه کي هم دا نه ورګرځېدله چي په دې کار سره د خپل هيواد ګټو ته څونه تاوان رسوي. لاکهارټ، ص ص ۱۰۳-۱۰۴
د کيخسرو قواوو، په دغو سختو شرايطو کي، د کندهار محاصرې ته  تقريباً يو کال دوام ورکړ او کله چي ورته معلومه سوه چي په دغه راز شرايطو کي د ښار فتح کول امکان نه لري او افسرانو يې هم مشوره ورکړه چي اوس حاضر بايد د هرات او مشهد خواته پر شا سو او په راتلونکي کال کي، په مساعدو شرايطو کي به، د نورو تازه دمه قواوو سره بيا د کندهار پر لور حرکت وکړو نو کيخسروخان هم د هغوی مشوره ومنله او د خپلو پوځونو د پرشا کولو فيصله يې وکړه. مجمع التواريخ ص ۱۶
داکترلاکهارت په دې باره کي يو څه تفصيل ورکوي او د تفصيل ورکولو لپاره د يوه ايټالوي جراح، فرسکو تاري ورونژ، د سترګو په ليدلي حال استناد کوي او ليکي چي ميرويس له بلوڅانو څخه مرسته وغوښته او هغوی د کيخسرو پر عسکرو باندې د خرپ او ترپ حملې پيل کړې او هم يې د ښار شاوخوا ټوله چور کړه نو پر کيخسرو باندې ميدان تنګ سو او په دې ضمن کي لا د کيخسرو اکثر عسکر د اسهال په ناروغي اخته سول او د سپټمبر پر ۲۷ د کيخسرو د کاکا زوی اليکساندر او يو څو تنه ورسره سپاره ملګري بې په يوه نښته کي ووژل سول.
لاکهارت ليکي چي کله کيخسرو متوجه سو چي وضع خرابيږي نو يې د خپلو قواوو د عقب نشيني فيصله وکړه. کله چي د کيخسرو قواوو عقب نشيني پيل کړه، د ميرويس قواوو په حملو پيل وکړ. ګرجيانو ډېر ښه جنګ وکړ او عبدالله خان ابدالی هم، چي د کيخسرو د قواوو ملاتړی يې کاوه،  په مړانه وجنګېدی مګر د هغوی ايراني ملګرو د لوږي او تندې تاب رانه  ووړ اوتېښتې ته مخه کړه. د کيخسرو ورور يزه له دغه جنګ څخه ژوندی ووت او ښايي کيخسرو هم نجات پيدا کړی وای مګر آس يې له يوې ويالې څخه د غورځېدلو په وخت کي وښويدی او له آسه ولوېدی. پښتنو هغه ته د بيرته سپرېدلو مجال ورنه کړ او ځای پرځای يې وواژه. انقراض، ص ص ۱۰۵-۱۰۶
د ايراني پوځ د ماتې خبرونو صفوي دربار سخت وارخطا کړ او بيا يې هم د معمول سره سم په سلا مشورو لاس پوري کړ. دې سلا مشورو ډېر دوام وکړ او بالآخره ټول دې نتيجې ته ورسېدل چي محمدزمان خان قورچي باشي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

به، چي يو تجربه کار جنرال دی، د کندهار خواته لېږي. محمدزمان خان هم زوړ اوهم ناروغ وو خو د شاه د امر سره سم يې دې ماموريت ته زړه نا زړه غاړه کېښېنودله. صفوي دربار محمدزمان خان ته ښې ډيري پيسې او قوي توپخانه ورکړه او ضمناً د خراسان، استرآباد او قاجاريانو او کردانو او ترکمانانو څخه يې غوښتنه وکړه چې د محمدزمان خان له پوځ سره د لښکر، پوځ او خوراکي موادو مرستي ونه سپموي. خو ناروغ او سپين ږيري محمدزمان خان ايله ځان تر بسطام پوری ورساوه او هلته ناروغ پرېووت. له څو ورځو ناروغی څخه وروسته هلته وفات سو او د مرعشي په قول، د کندهار تر سفر يې د آخرت سفر ته ترجيح ورکړه. مجمع التواريخ ص ص ۱۷ـ۱۸
که څه هم چي کروزينسکی ليکي چې، د کيخسرو له ماتي څخه وروسته ، ايران هر کال کندهار ته پوځونه لېږل اوتولو ماته کوله تر څو چي ميرويس وفات سو. خو کروزينسکی د خپلي ادعا تفصيل نه ورکوي او د هيڅ کوم جنرال نوم، چي کندهار ته دي لېږل سوی وي، نه اخلي.
مرحوم بېنوا د ميرويس نيکه په نوم کتاب کي د انګريزي صاحب منصب او مورخ مليسن په حواله ليکي چي د ايران صفوي رژيم، په کندهار کي د کيخسرو د لښکرو له ماتي څخه مخکي، په ۱۸ مياشتو کي پنځه ځله کندهار ته پوځونه واستول او هر ځل له ناکامی سره مخامخ سول. په وروستی حمله کي، چي د تبريز د حاکم محمدخان تر قوماندې لاندي يې وکړه، ميرويس د محمدخان ۵۰۰۰ سپرو ته په ۵۰۰ سپرو ماته ورکړه او پخپله د تبريز حاکم، له خپلو دريو زامنو سره، د پښتنو جنګياليو په لاس ورغی. ميرويس نيکه ص ۷۹
که څه هم چي د پورتنيو پنځو حملو لپاره هيڅ ډول موثق استناد موجود نه دی او د بېنوا منبع هم پر هانوي باندي، چي هغه پخپله هيڅ سند نه لري، حواله ورکوي؛ خو مليسن په دې عقيده دی چي په کندهار کي د خسروخان د ماتي او وژل کېدلو څخه وروسته د ايران دربار، د محمدرستم خان تر قوماندې لاندي، يو بل پوځ هم پر کندهار باندي د حملي لپاره واستاوه. دې پوځ هم ماته وخوړه او محمدرستم خان ايله خپل سروساتی او له ميدانه په تېښته ولاړ. مليسن دا حمله په ۱۷۱۴ کي بولي. Malleson. History of Afghanistan p233 بېنوا. هوتکي ها ص ۷۲، حبيبی. تاريخ مختصر افغانستان ص ۲۴۷
د مرحوم بېنوا او د مليسن دا ادعا چي ايران پر کندهار باندي د کيخسرو يا خسرو خان د حملي څخه مخکي پنځه ځله پر کندهار باندي حملي وکړې، نه يوازي دا چي په هيڅ تاريخي مأخذ کي وجود نه لري او يوازي د هانوي په خيالنامه کي يې يادونه سوې ده، بلکه په ۱۸ مياشتو کي پنځه حملي د ايران لپاره ممکني نه وې. موږ وليدل چي ايران د خسروخان د پوځ د لېږلو لپاره پوره دوه کاله ځنډ وکړ او ايله يو پوځ يې برابر کړ چي هغه هم ماته وکړه. نو ګواکي د ايران لپاره دا پنځه حملي نه يوازي په لوژيستيکي لحاظ غير ممکني وي بلکه د لاري فاصله او ستونزي که په نطر کي ورسره ونيولي سي نو سړی اټکل کولای سي چي د دې حملو امکان موجود نه وو.
فرهنګ هم، چي خپله منبع نه ښيي يا يې نه سي ښودلای، ليکي چي وروسته له هغه چي په کندهار کي د اصفهان د دوهم سفير د نيول کېدلو خبر ايران ته ورسېدی نو دربار دې نتيجې ته ورسېدی چي ميرويس په وعدو نه سي غولولای او بايد چي پوځي اقدام وسی؛ خو بيا يې هم يوه منځنی لاره انتخاب کړه او هغه دا چي د يوه قوي پوځ د لېږلو پر ځای يې د هرات ګورنر ته امر وکړ چي د کندهار پر لور حرکت وکړي. دا اقدام په ۱۷۱۰ ميلادي کي وسو. ميرويس چي تر دغه وخته يې بشپړ نظامي ترتيبات نيولي وه، له ۵۰۰۰ عسکرو سره جنګ ته را ووت او د ايران قواوو ته يې ماته ورکړه. له دې څخه وروسته د ايران حکومت پر کندهار باندي څلور نوري حملي وکړې او ټولي بې نتيجې پای ته ورسېدلې. فرهنګ. افغانستان در پنج قرن اخير ص ۷۱
د اصفهان دربار تر دې وروسته د کندهار خواته توجه ونه کړه او ميرويس خان له دې وضع څخه ګټه واخيستله او تر کنټرول لاندي سيمو د سمسورولو خواته متوجه سو. د ميرويس خان سره عمرډېره وفا ونه کړه او په ۱۷۱۶ ميلادي کي وفات سو. کروزينسکی ليکي چي هغه د مرګ په وخت کي افغانانو ته وصيت وکړ چي د دښمن سره جهاد او مبارزې ته دوام ورکړي او همېشه يو لاس او يوموټی اوسي. هغه افغانانو ته وويل چي هيڅ وخت خپلو دښمنانو ته سر ټيټ نه کړی او په دې پوه سی چي په ايران کي بې اتفاقي موجوده ده او دولت يې مخ پر زوال دی او داسي ورځ به راسي چي د خدای په مرسته به اصفهان ونيسی. کروزينسکي. تاريخ سياح مسيحی* ص ۲۸

---

* د ميرويس نيکه د وفات د نېټي په برخه کي د ليکوالو او مورخينو ترمنځ ډېر زيات اختلاف موجود دی او ډېر لږ يې پر يوه لاره دي. حبيبی تاريخ مختصر ص ۲۱۹ او بېنوا ميرويس نيکه ص ۲۰ د ميرويس نيکه وفات په ۱۱۲۷ هـق کي بولي چي ۱۷۱۴ ميلادي کيږي. کروزينسکي يې ۱۷۱۷ بولي، مجمع التواريخ ص ۱۸ يې په ۱۷۱۵ کي بولي او راورټي خو لا د ميرويس وفات Notes on Baluchistan and Afghanistan p 608 په ۱۷۲۰ کي بولي.
د کندهار د خپلواکی د پاڅون او د اصفهان د دونه لوی دښمن د وفات د نېټو په برخه کي له اختلاف څخه ښکاري چي د ايران دربار له کندهار سره ډېره سسته رابطه درلوده او دغه علت دی چي د دربار واقعه ليکونکو د دونه مهمي پيښي، چې د صفوي رژيم په سرنوشت کي يې ژوره او حتی قاطع اغېزه درلوده په سمه توګه قيد کړي نه دي. مخکي مو وويل چي کروزينسکی وايی کيخسرو د ۱۷۱۰ په پای کي کندهار ته واستول سو. کروزينسکي ليکي چي د هغه له ماتي څخه وروسته صفوي دربار هر کال کندهار ته پوځي قواوي لېږلی او ټولي پوځي حملي له ناکامی سره مخامخ کېدلي. ميرويس اووه کاله ژوندی وو او وروسته وفات سو. په دې حساب بايد ميرويس نيکه په ۱۷۱۷


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

يا په ۱۷۱۸ کي وفات سوی وي. زه ګومان کوم چي دا وروستۍ نېټه د کندهار له وروستيو پيښنو سره سرخوري. ځکه چي کله عبدالعزيز ميرويس نيکه په زهرو وواژه او پخپله يې دوه کاله حکومت وکړ او شاه محمود هغه له منځه يووړ او پر ايران باندي يې حملې پيل کړې. دا ۱۷۲۰ سنه کېږي.

لاکهارټ وايي دا چي ميرويس به په دغه ترلاس لاندي قلمرو قانع وو او که به يې د نورو فتوحاتو خيال هم درلود سړی چنداني څه نه سي ويلای. خو ځيني منابع وايي چي هغه د اصفهان د نيولو خيال درلود او د مرګ په وخت کي يې خپل زوی ته د اصفهان د نيولو تلقين کاوه. انقراض سلسله صفويه ص ۱۰۸.

زه ګومان کوم چي دا به د لاکهارټ خپله عقيده وي ځکه که يې منبع درلودلای حتماً به يې نوم ياد کړی وای. په دې باره کي هر چا خپل خيالات ور اضافه کړي دي.

موږ د ميرويس نيکه د اداري د طرز او د حکومت کولو په باب چنداني اطلاعات نه لرو. خو دومره پوهېږو چي هغه تر مرګه پوري د مشر په نامه بسيا سو او د پاچهی د اعلانولو تکل يې ونه کړ. دا چي وروسته به يې پاچهي په خيال کي وه هغه معلومات هيڅ چا ته نسته. موږ دونه په يقين سره پوهېږو چي پښتانه په يوه اسانه چاته د بابا او نيکه نوم او لقب نه ورکوي. دا چي پښتانه يې تراوسه پوري نيکه بولي د دې معنا دا ده چي هغه به په ډېر پراخ زړه او ورين تندي له خلکو سره سلوک کړی وي.

که د ميرويس خان د شخصيت او اهليت په باره کي موږ ته چا څه ويلي نه دي هم موږ د هغه د اعمالو د نتيجو پر اساس د هغه د هوښياری او مړاني په باره کي قضاوت کولای سو. دا چي هغه د کندهار او په مجموع کي د سيمي د پښتنو د آزادولو او خپلواکه کولو په منظور د اقدام کولو لپاره داسي حساس وخت انتخاب کړی وو چي د ايران صفوي رژيم د خپل اداري او اخلاقي فساد او کمزورۍ وروستی مرحلې ته رسېدلی وو او د لويو ښورښونو د ځپلو توان يې نه درلود او په ختيځ کي د هند مغلي دربار د اورنګ زيب له وفات څخه وروسته په داسي داخلي جګړو او ورور وژنو اخته سو چي د خپل ځان د ساتلو او ژغورلو توان ورته باته نه وو؛ دا پخپله د هغه پر منتهی هوښياری او درايت باندي دلالت کوي. هغه لږ ترلږه دوه ځله د ايراني لښکرو سره د جنګ په ميدان کي خپله مړانه، توره او نظامي هوښياري او نبوغ وښود. البته موږ نه يو خبر چي هغه به د شال او مستونګ څخه نيولې تر اوروزګان او سيستان پوری د پراخي سيمي د اېلولو او د يوه واحد مرکز تر اداري لاندي کولو لپاره په سيمه کي نور پوځي اقدامات هم کړي وي کنه. خو دا چي د هغه له وقات څخه وروسته د سيمي پښتنو په لومړي سرکي د ده ورور عبدالعزيز او تر هغه وروسته د ده ځوان زوی شاه محمود ته د چارو واګي وسپارلې دا ښيي چي له خپلو خلکو سره به يې حتماً ډېره ښه ګوزاره کړې وي او هغوی ته به يې ښودلې وي چي د ده کورنۍ د قومي چارو د اداري توان لري او د دښمنانو په مقابل کي د دفاع توان او صلاحيت ورسره دی.

ميرويس ډېر لوی مېړه وو. سره له هغه چي تر هر چا زړه ور او توريالی وو مګر په اجتماعي او سياسي چارو کي يې عقل او تدبير ته د توري تر استعمال ترجېح ورکوله. لاکهارټ وايي ميرويس چي به هرکله خپل دښمن ته ګوزار ورکاوه صبر به يې کاوه او مناسب فرصت ته يې کتل. هغه کتاب ص ۱۰۷

سرجان مالکم ليکي چي د پښتنو دې زړه ور مشر د ډېر لوی قدرت د نيولو آرزو درلوده مګر مخکي له هغه چي خپل پلانونه عملي کړي وفات سو. د هغه د شخصيت په برخه کي دوستان او دښمنان دواړه په يوه نظر دي. که څه هم چي هغه ډېر زړه ور وو خو هغه څه چي ده ته يې په خپل قوم کي امتياز ورپه برخه کړی وو هغه د ده فوق العاده هوښياري، زيرکي او احتياط وو. ګواکي د عقل برخه يې تر توري درنه وه. Malcolm. The History of Persia p 412

ميرعبدالعزيز:

د ميرويس خان له وفات څخه وروسته، چي د وفات د نېټې په برخه کي يې اختلافات موجود دي، او مورخينو يې د وفات د څرنګه والي په باره کي چنداني څه نه دي ليکلي؛ او ليکي چي د ميرويس له وفات څخه وروسته د هغه کشر ورور عبدالعزيز قدرت ونيوی. يوازي د عبدالغفار هوتک منظوم اثر « هوتکنامه » د ميرويس خان د مړيني پړه مستقيماً پر عبدالعزيز اچوي او هغه د ميرويس قاتل بولي. البته هوتکنامه، د ميرويس نيکه په باب ليکل سويو تاريخونو څخه لږترلږه نيمه پېړۍ وروسته پيدا او چاپ سوه او تر دغه نېټې پوري هيڅ مورخ ته د پيښی دقيق درک معلوم نه وو. عبدالغفار هوتک د خپل اثر په ۱۳۷ او ۱۳۹ بيتونو کي ليکي:

په زهرو يې شهيد حاجي ميرخان که
حکومت يې برادر بيا عزيز خان که

او وروسته د ميرويس نيکه له وراره يارمحمد سره، چي د هند دربار ته د ميرويس د خاص استازي حاجی انکو ورور وو، او د ميرويس نيکه طرفدار وو، دښمنۍ او د عبدالعزيز له خوا د يارمحمد د وژلو قضيه بيانوي:

عزيزخان او يارمحمد
دښمني يې شوه بېحد
چي دی ورغی دېوان ته
په پرسش و عزيزخان ته
په هغه ان يې دی بندي که
هم يې مړ داسی دستي که


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

پرې خوني بيا عزيزخان شو
مخ تورن بيا پښېمان شو.

مورخينو يوازې دونه ليکلي دي چي د ميرويس دوه زامن وه چي يو يې ۱۸ او بل يې ۱۴ کلن وو. د پښتنو مشرانو د هغوی د عمر د لږوالي له امله هغوی د قدرت د نيولو لپاره مناسب ونه بلل. البته کروزينسکی د محمود د يوه بل کشر ورور ياونه هم کوي اووايي چي د بنی اصفهان د محاصرې په وخت کي د محمود کشر ورور، د هغه د خاله زوی او د افغانانو څو تنه مشران او يو شمېر افغانان قزلباشو ونيول. او کله چي د ايران شاه خپل استازی د هغوی د خلاصولو لپاره ور واستول قزلباشو د هيأت د رسېدلو څخه مخکي هغوی وژلي ول. تاريخ سياح ص ۴۳

نور نو اکثرمورخين يوازې د محمود او حسين نومونه يادوي او وايي چي د خپل پلار د وفات په وخت کي يې عمرونه ډېر کم وه او د کندهار قومي مشرانو، د هغه احترام او درناوي په اساس چي ميرويس خان ته يې درلود، د کندهار او شاوخوا سيمو مشرتوب د هغه د کورنۍ حق باله او قدرت يې د ميرويس ورور عبدالعوزيز ته ورکړ.
History of the Late Revolutions in Persia vol 1 p 202

عبدالعزيز د شخصيت له مخي له ميرويس خان سره ډېر زيات توپير درلود. هغه نه د ميرويس خان په څېر زړه ور او نه د هغه په څېر هوښيار وو. له عبدالعزيز سره تر هرڅه مخکي دا انديښنه پيدا سوه چي که يو ځل د اصفهان دربار بيرته پر پښو ودرېدی او يو ځل يې د کندهار د خپلواکی د پاڅون د ځپلو لپاره په هوښيارو او پر وخت او منظمو اقداماتو لاس پوري کړ؛ کندهار به د هغوی په مقابل کي د مقاومت کولو توان ونه لري. د ايران د شاه قهرېدلي پوځونه به د کندهار د خلکو د تيرو کلونو د قيامونو او په جنګونو کي د بريالیتوبونو کسات واخلي او پښتنو ته به د پرله پسي ماتو او شکستونو شرم په برخه سي. Ibid p203

هغه په دې مسله کي ځينو قومي مشرانو ته قناعت ورکړ او د ايران له دربار سره يې د روغي جوړې لاره ونيوله. هغه را بللو قومي مشرانو ته قناعت ورکړ چي د اصفهان دربار ته بايد يو هيأت ولېږو او د ايران شاه ته څو پيشنهادونه وړاندي کړو. يو دا چي تېرو پېښو وښودله چي د کندهار او شاوخوا سيمو خلکو د خارجي پوځيانو او په تېره بيا د ګرګين د ظلمونو او تېريو په مقابل کي ښورښ وکړ نو بايد چي په آينده کي د کندهار سيمي ته پوځيان وانه ستول سي او د کندهار خلک پرېښودل سي چي پخپله خپل پوځ ولري او له دې ښار او شاوخوا سيمو څخه دفاع وکړي. بل دا چي د ايران حکومت دې، د خپلو ځينو نورو ايالتونو په څېر، کندهار ته هم دا واک ورکړي چي خپل حکومت ولري او حکومت دي د ميرويس په کورنۍ کي ميراثي کړل سي او بل دا چي پخواني ماليات دي کم سي. Ibid p 204

په دې کي شک نسته چي د ايران دربار به دغه ورته وړاندي سوي شرايط په ورين تندي منلي وای؛ ځکه چي د صفوي دربار سره نور د کندهار د بيرته فتح کولو توان پاته نه وو او دا چي هغه سيمه پرته له مقاومته او په لوی لاس بيرته ايران ته تسليمېدله نو ايران نور څه غوښتل. ځکه چي ايران هم د کندهار د پاڅون په ځپلو او هم د هرات د ابداليانو د خپلواکی د تحريک د ځپلو لپاره خپل تر ټولو قوي او غښتلي جنرالان واستول او ټول پوځي عمليات يې ناکام سول او ټول جنرالان يې په جنګونو کي وژل سوي ول.

مخکي له هغه چي د عبدالعزيز او د هغه د طرفدارو مشرانو هيأت له کندهار څخه حرکت وکړي خلک او هغه قومي مشران چي په توره يې آزادي ګټلي وه، قرباني يې ورکړې وې او د خپلواک اوسېدلو ژوند خوند يې تر خوله سوی وو، په دې دسيسه خبر سول او له عبدالعزيز سره يې مخالفت وکړ. خلک پوهېدل چي ايران به هيڅکله، د جنګونو په ميدان کي، خپل شرمونکي شکستونه له ياده ونه باسي او که بيا د پښتنو سيمو ته د راتللو اجازه ورکړه سی نو خپل کساتونه به واخلي او زړونه به يخ کړي.

دې قومي مشرانو عبدالعزيز ته وويل چي که چيري د ايران پوځيان دا توان پيدا کړي چي پښتنانه او د کندهار سيمه د توپونو او قواو په زور وځپي نو تر دې چي په لوی لاس او په خپله خوښه د خپل دښمن چړې ته پرې وزو پرېږده چي د تورو په ميدانونو کي پر ننګ او غيرت مړه سو. مشرانو عبدالعزيز ته وويل چي تر دې چي په لوی لاس ايران ته تسليمېږو ولي شاوخوا ګاونډي ايالتونه، چي هغه هم د ايران د صفوي دولت له ظلم او ستم څخه په عذاب دي، له ځانونو سره ملګري نه کړو او ټول د ايران د دربار په مقابل کي پاڅون کولو ته ونه هڅوو*. Ibid p206

---

* مخکي مو وويل چي پورتنی کتاب د کروزينسکي د خاطراتو په اساس ليکل سوی دی مګر وروستيو ليکوالانو پر هغه باندي څو سوه مخه اضافه کړي دي. زه فکر کوم دوه کاله، چي عبدالعزيز په کندهار کي حکومت کړی دی، کافي وخت وو چي هغه خپل بې زړه او حتی خاينانه پلان تعقيب کړی او عملي کړی وای. د مشرانو رابلل او هغه ته د مشرانو ويناوي کول وروسته ايجاد سوي او زياتي سوي خبري دي. زه د عبدالغفار هوتک مختصر او له نسبتاً ګټورو معلوماتو ډک منظوم کتاب « هوتکنامه» تعقيبوم. د عبدالعزيز د وژل کېدلو علت يوازې د هغه د بزدلانه او خاينانه نقشو تعقيب نه بلکه د کورنيو وينو توېيدلو او دښمنی او په اصطلاح د قصر د کودتا او انتقام اخيستلومحصول بولم.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

لاکهارټ لیکي چي عبدالعزیز د بیري تر سرحده محتاط وواو د خپل اته لس میاشتني حکومت په جریان کي تر پایه پر خپله خبره ټینګ ودرېدی. د نورو مشرانو پر خبرو او مشورو یې غوږ.ونه کانه واچول او غوښتل یې چي صفوي شاه حسین ته تسلیم سي. انقراض سلسله صفویه ص ۱۰۸
د پښتنو مشرانو، چي د ایران له دربار څخه خپله آزادي د خپلو سل ګونو وطنوالو د وینو تویېدلو په بیه اخیستې وه، په دومره آساني هغه آزادي بیرته له لاسه نه سوای ورکولای. هغوی د میرویس مشر زوی محمود ته ورغلل. محمود په دې پوهېدی چي د هغه اکا ایران ته د تسلیمېدلو فیصله کړې ده او په هیڅ توګه سمي لارې ته نه راځي؛ ځکه یې نو هغه وواژه او قومي مشرانو سمدستی پخپله محمود د مشر په حیث ومانه. هغه کتاب ص ۱۰۹
شاه محمود:
محمود که څه هم ډېر خوان وو مګر له پلار سره یې په ټولو نظامي عملیاتو کي برخه اخیستې وه. خپل زړه ورتوب او قوت یې ښودلی او ثابت کړی وو او پر عسکرو باندي ډېر ګران وو.
په دې کي شک نسته چي شاه محمود ته به د اصفهان د دربار کمزوري معلومه وه او د جنګ په میدانونو کي یې د ایران د پوځونو شکستونه لیدلي وه؛ خو موږ دا نه سو ویلای چي هغه به له لومړي سره د ایران د فتح کولو او د ایران د پاچهی د چپه کولو خیال درلود. البته قدرت ته له رسېدلو سره سم د خپل قلمرو د پراخولو په فکر کي سو.
شاه محمود د ایران د صفوي دولت پر قلمرو باندي تر لومړۍ حملې پوري، په دووکالو کي، په داخل کي، خپل قدرت ښه ټینګ کړ. په دې دووکالو کي د سیمي اوسېدونکو پښتنو هغه د زړه له کومي د یوازیني مشر په حیث ومانه او په دغه وخت کی یې هزاره ګان هم د ځان تابع کړل او د هغوی ملاتړ یې هم ترلاسه کړ. هغه کتاب ص ۱۲۶
موږ په دغه زمانه کي د محمود د اجرآتو، اداري اصلاحاتو او پوځي عملیاتو او نظم په باره کي چنداني اطلاعات نه لرو خو دا چي په دغه وخت کي، د هغه د عمر د کموالي سره سره، د هغه په مقابل کي د بلوڅو او هزاره ګانو لویو قومونو هیڅ ډول منفی عکس العمل نه دی ښودلی او هیڅ قوم ښورېښ ته لاس نه دی اچولی نو موږ ویلای سو چي هغه په خپلو اجرآتو او عملیاتو کي بریالی وو. له بلي خوا صفوي دولت د عبدالعزیز په څېر یوه کمزوري مشر د څه باندي یوه کال یا دوو کالو حکومت او د شاه محمود په څېر یوه زړه ور او قوي جنرال قدرت ته رسېدلو په وخت کي ځکه د کندهار پر لور بله لښکرکښی ونه کړه چي په هغه وخت کي، هم له نورو داخلي ستونزو سره لاس او ګرېوان وو او هم په هرات کي د ابدالیانو د داسي عمومي پاڅون سره مخامخ سو چي نه یوازي یې د هرات او فراه سیمي ونیولې بلکه د خراسان د ایالت مرکز مشهد یې هم تهدید کړ. د صفویانو کمزوری نظام د خپل اداري فساد تر څنګ د بلوڅو کردانو او عربانو له قومي ستونزو سره مخامخ وو او په دغه حساسو شرایطو کي د هرات له تاریخي ښار څخه د ابدالي پښتنو د قیام لمبې پورته سوې.



[په افغان جرمن آنلاین پورتال کی د جهانی صاحب آرشیف]


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ